# بسنه کوي چې په لاسونو سره داسې وکړې» بیا یې په دواړو لاسونو یو ځل ځمکه ووهله، بیا یې ښي لاس په چپ لاس راکش کړ او د لاسونو مخ او څټونه یې مسح کړل

له عمار بن یاسر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو کار پسې ولېږلم، هلته جنب شوم، اوبه مې ونه موندلې، نو په خاورو کې لکه د څاروي په څېر ورغړېدم، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلم، او پدې اړه مې ورته یادونه وکړه، هغه راته وفرمایل: «بسنه کوي چې په لاسونو سره داسې وکړې» بیا یې په دواړو لاسونو یو ځل ځمکه ووهله، بیا یې ښي لاس په چپ لاس راکش کړ او د لاسونو مخ او څټونه یې مسح کړل.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم عمار بن یاسر رضي الله عنه د خپلو ځینو حاجاتو لپاره په سفر ولېږه، نو هلته په کوروالي کولو او یا په شهوت سره مني وتلو باندې جنب شو، نو اوبه یې ونه موندلې چې غسل پرې وکړي، او له جنابت څخه د تیمم کولو په حکم نه پوهېده، بلکې یوازې له بې اودسۍ څخه یې په حکم پوهېده. نو اجتهاد یې وکړ او دا فکر یې وکړ چې لکه څرنګه د بدن ځینې برخې د اودس لپاره د ځمکې په خاورو سره مسح کېږي، نو له جنابت څخه په تیمم کې باید ټول بدن په خاورو ککړ شي؛ په اوبو یې قیاس وکړ، نو په خاورو کې ولوغړېده تر دې چې ټول ځان یې په خاورو کړ بیا یې لمونځ وکړ، نو کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، پدې اړه یې ورته یادونه وکړه، تر څو پوه شي چې سم کار یې کړی که نه؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته له دواړو بې اودسیو؛ وړې او غټې لکه: تشې متیازې او یا جنابت څخه د پاکوالي طریقه وښوده: داسې چې په دواړو لاسونو سره به ځمکې ته یوه ضربه ورکړي، بیا به چپ لاس په ښي لاس راکش کړي او د دواړو لاسونو مخونه او څټونه به مسح کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3461